(١)

## د ایمان ګټې

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ» ژباړه:« او دا هم حقيقت دی، کومو کسانو چې ايمان راوړيدی او غوره چاري يې سرته رسولي دي، د هغو رب به يې د هغو د ايمان له امله پر سمه لاره وخوځوي، له نعمت څخه په ډکو جنتونو کښې به چې لاندي به يې ويالې بهيږي (ځاي ورکړي)»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

### و بعد:

په بندګانو باندي د الله د نعمتونو څخه يو هم دادي چې د هر نيک کار لپآره چې انسان يی کوي ښه ګټه ټاکل شوی ده د لويو اعمالو څخه چې د هغې اغيزي او خير او ښيګڼه وګړي او ټولنه ته رسيږي په الله جل جلاله باندي ايمان او باور لرل دی پيغمبر صلى الله عليه وسلم مونږ ته د ايمان حقيقت بيان کړی دی چې مناسبه ده بايد د هر مومن په زړه کې بايد هغه ثابت شي دا په هغه وخت کې چې کله جبريل عليه السلام ورڅخه د ايمان په هکله پوښتنه وکړه نو وی فرمايل چې ته په الله جل جلاله د هغه په ملايکو کتابونو رسولانو او د قيامت په ورځ باندي او همدارنګه په اندازه د خير او شر باندي ايمان ولری جبريل عليه السلام ورته وويل چې ته

ريښتيا وايي نو ايمان يواځي خبره نده چې په ژبه باندي وويل شي بلکي دا د زړه نه پري عقيده لرل دي او په ژبه باندي اقرار کول دی او په ټولو اعضاء او ارکانو باندي عمل کول دي نو ايمان هغه دی چې په زړه کي ثابت پاتي شي او عمل د هغه تصديق وکړي پداسی ډول سره چې د الله جل جلاله د اوامرو تابعداري وکړي او د هغه کارونو څخه ځان منع کړي چې الله منع کړي دي.

او کله چې د امام حسن بصري رحمه الله څخه پوښتنه وکړي شوه چې آيا ته مومن يی ؟ نو هغه وويل چې ايمان په دوه ډوله دی که چيرته ته له ما څخه پوښتنه کوي پدی باندي چې زه په الله د هغه ملايکو کتابونو او رسولانو او په جنت او همدارنګه د مرګ څخه وروسته په بيرته پاسيدني حساب او کتاب باندي ايمان او باور ولرم نو زه مومن يم او که چيرته ته له ما څخه د الله جل جلاله د دغه وينا په هکله پوښتنه کوي چې فرمايي:**«إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ * الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ * أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً» ژباړه:« ربښتيني مؤمنان هغه دي چې زړونه يې د الله د ياد په اورېدلو لړزيږي. او کله چې د هغو په وړاندي د الله ايتونه لوستل کيږي، نو د هغو ايمان زياتيږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري، *هغه کسان چې لمونځ قائموي او څه چې مو هغو ته ورکړي دي، له هغو څخه يې(زموږ په لار کښي) لګوي؛* همداسي خلك حقيقي مؤمنان دي.»** نو زما دی په الله قسم وي زه پدي نه پوهيږم چې زه به ددوي جملي څخه يم او که نه؟.

نو حقيقي ايمان هغه دی چې زړه ورسره روښانه شي او په نفس باندي د هغه اغيزي رامنځته شي پداسی ډول سره چې روح او عقل او همدارنګه په ټولني او وګړو ټولو باندي اغيزي وغورځوي د ايمان د ګټو څخه يو هم دادی چې بنده د نيکو اخلاقو خاوند کيږي ځکه چې ايمان اوامانت يو له بل سره تړلي دي چې هيڅکله هم نه جدا کيږي ځکه پيغمبر صلی الله عليه

وسلم فرمايلي دي هغه چا لپآره ايمان نشته چې هغه امانتداره نه وي او همدارنګه هغه چا لپاره دين نشته چې هغه عهد ونلري همدارنګه ايمان او حيان يو له بل سره تړل شوي دي پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: حياء او ايمان يو له بل سره تړل شويدي که چيرته يو تری لری کړي شي نو هغه بل هم پخپله تری لری کيږي نو ايمان او رېښتيولي هم يوله بل سره تړلي دي د صفوان بن سليم روايت د ی وايی چې پيغمبر (ص) ته وويل شو چې آيا مومن بذدل کيدلی شي؟ هغه ورته وفرمايل چې هو بيا ورته وويل شو چې آيا مومن بخيل کيدلی شي ؟ نو هغه ورته وفرمايل هو، بيا ورته وويل شو چې آيا مومن دروغجن کيدلي شی؟ وويل چې نه، ځينو ايمان په صدق او رېښتينولي باندي پيژندلی دی هغوي وايی چې حقيقی ايمان دادی چې ته تل رېښتيا ووايی ځکه سره لدي چې ته پدي باندي مطمئن هم ووسی چې رېښتيولي تاته ضرر هم رسوي خو بيا هم رېښتيا ووايی سره لدي نه چې ته پدي ګومان وسی چې دروغ تاته ګټه رسوي که چيرته نيک اخلاق موجود وي نو هغه به د صحيح ايمان له کبله رامنځته شوی وي ځکه مومن د ښه خبري پرته نوري بيځايه خبری نکوي هغه خبری کوي چې هغه اصلاح رامنځته کوي او فساد لمنځه وړي جوړښت رامنځته کوي او ويجاړي لمنځه وړي او همدارنګه بيا آبادي رامنځته کوي او نه دا چې ويجاړي رامنځته کړي ځکه چې زمونږ مبارک دين د اخلاقو سمون جوړښت د رغوني دين دی نو ځوک چې پدي کې هڅه وکړي نو هغه به په دين کې په بشپړه توګه سره داخليږي.

د ايمان د ګټو څخه بل هم آرامتيا او اطمئنان دی ځکه چې ايمان د بشريت نفس آراموي نو همدا ده چې نفس ته آرامتيا او يقين او رضامندي حاصليږي او هغه په دنيا او آخرت کې خوښي ورته په برخه کيږي حقيقي مومن هغه دی چې په يقيني ډول سره دا درک کړي نو همدا ده چې تل شکر وباسي او خوښي رامنځته کوي اوهمدارنګه صبر کوي اوهميشه په زړه کې اطمئنان وسي پدي باندي چې الله (ج) هغه څه ديته فيصله کړی

ده ددی لپاره خیر او ښیګڼه ده پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ» ژباړه:« څوك چي پر الله ايمان ولري، الله د هغه زړه ته هدايت ور بخښي»، همدارنګه نبي كريم (ص) فرمايلي دي چې د مومن مسلمان كارونه عجيبه دي ځكه چې د هغه په ټولو چارو كې خير او ښيګڼه موجوده ده او دا د بل چا لپآره ندي يواځي مومن لپآره دی كه چيرته هغه ته خوښي ورسيږي شكر وباسی نو دا هغه لپآره خير او ښيګڼه ده او كه چيرته ضرر ورسيږي صبر كوي نو دا هم د هغه لپآره خير او ښيګڼه ګرځي.

همدارنګه د ايمان د ګټو څخه بل هم دا دی چې ايمانداره سړی د بدو كارونو څخه ځان ساتي پيغمبر (ص) پدي هكله فرمايي: كله چې يو څوک زنا كوي نو په هغه كې به ايمان نه وي او كله چې شراب خور شراب څكي نود هغه څخه ايمان وځي كله چې يو څوک غلا كوي د هغه څخه ايمان وځي همدارنګه حقيقي مومن هغه د چې خپل ځان د ټول هغو كارونو څخه وساتي چې خلكو ته پري زيان رسيږي لكه چا پري ملنډي وهل يا چا پوري خندل او بدګماني كول الله جل جلاله پدي هكله فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! نه دي نارينه پر نورو نارينه ؤ ملنډي وهي، كېدی شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. او نه دي ښځې په نورو ښځو ملنډي وهي، كېدای شي چي هغوی له دوی څخه غوره وي. يخپلو منځو كي يو د بل عيب مه لټوئ، او مه يو بل په بدو نومونو سره يادوئ. له ايمان راوړلو وروسته په فسق كې نوم پيدا كول ډېره بده خبره ده. كوم كسان چې دغه چار چلند پرېنږدي (توبه ونه باسي)، همغوی ظالمان دي.»، اوبيا فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ

أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ» ژباړه:« اې مؤمنانو، له ډېر ګومان کولو ځخه ډډه وکړئ، چي ځيني ګومانونه ګناه وي. د چا پټ عيبونه مه لټوئ او ستاسي څخه دي څوك د چا غيبت نکوي. ايا په تاسي کي داسي څوك شته چي د خپل مړه ورور غوښي خوړل خوښ کړي؟ - ګورئ تاسي پخپله د دې څخه کرکه کوئ. د الله څخه ووېرېږئ. الله ډېر ښه توبه قبلوونکی او خورا مهربان دی.»، او بيا فرمايي:« لَّوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ» ژباړه:« په کوم وخت کښي چي تاسي هغه اورېدلي ؤ، په همغه وخت کي مؤمنو نارينه او مؤمنو ښځو په خپله ولي ښه ګومان ونه کړ؛ او ولي يې ونه ويل چي دا ښکاره بهتان دی؟».

د ايمان د ګټو څخه بل هم د الله جل جلاله له لوري تاييد او بريا ده چي مومن ته به ورکول کيږي ځکه چي ريشتيني ايمان بنده داسی ګرځوي چي ګويا الله له هغه سره وي الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ» او بيا فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ» ژباړه:« اې مؤمنانو که تاسي د الله (د دين) سره مرسته وکړئ، نو هغه به ستاسي سره مرسته وکړي او ستاسي قدمونه به کلك کړي» او بيا فرمايي:« إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ» ژباړه:« باور ولرئ چي موږ د خپلو پېغمبرانو او مؤمنانو مرسته هرومرو د دې دُنيا په ژوند کي هم کوو او په هغه ورځ به يې هم وکړو چي کله شاهدان ولاړ وي؛» او بيا فرمايي:« وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ»ژباړه:« او پر موږ دا حق ؤ چي د مؤمنانو سره مرسته وکړو.» او بيا فرمايي:«الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ * فَانقَلَبُواْ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُواْ رِضْوَانَ اللّهِ وَاللّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ» ژباړه:« هغه کسان چي خلکو (منافقانو) ورته وويل: "ستاسي پر خلاف لويي لښکري راغونډي شويدي، له هغو څخه ووېرېږئ ."- نو ددې په اورېدو

يې نور هم ايمان پياوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چې زموږ لپاره خدای کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.* په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لوريني سره بېرته ستانه شول، هيڅ راز زيان هم ورته ونه رسېدی او د الله له خوښې سره سم يې د تګ کولو مرتبه هم وموندله. الله ډېر ستر لوروونکی دی.».

همدارنګه د ايمان د ګټو ځخه بل هم دا دی چې الله جل جلاله د مومن بنده په زړه کې مينه او محبت غورځوي نو حقيقي مومن هم دا دي چې د هغه په زړه کې حقيقي مينه موجوده وي تل د يووالي لپآره کار کوي پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا» ژباړه:« دا باوري ده، کومو خلکو چې ايمان راوړيدی او ښه عملونه يې کړيدي، ډېر ژر به الرحمان د هغو لپاره په زړونو کښې مينه پيدا کړي.»د الله جل جلاله هغه بنده چې په ريښتيني سره هغه ايمان ولري او زړه يې پاک ي او په ژبه يې اقرار کړی وي نو الله به د هغه سره په هغه مهال ملاويږي چې دی په بشپړ توګه سره مومن ووسي همدارنګه پدي هکله بيلابيل قدسی حديثونه هم راغلي دي چې په يو قدسي حديث کې راځي کله چې الله جل جلاله خپل يو بنده خوښ کړي نو جبريل عليه السلام ته غږ وکړي چې يقينا الله جل جلاله فلان خوښوي نو د هغه سره مينه وکړي نو جبريل عليه السلام هم د هغه سره مينه کوي او جبريل عليه السلام بيا په اسمان کې غږ کوي چې يقينا الله جل جلاله د فلانکې سړي سره مينه کوي نو تاسو هم د هغه سره مينه وکړي، نو د اسمانونو او د ځمکو ټول خاوندان د هغه سره مينه کوي همدارنګه ددي ترڅنګ نور هم بيلابيل قدسي احاديث راغلي دي چې ټول په همدي باندي دلالت کوي چې حقيقي مومن سره تل الله جل جلاله مل وي او د هغه سره مرسته کوي او او يقيني مينه ورسره کوي.

همدارنګه د ايمان د ګټو ځخه بل هم دا دی چې ايمان د سختيو او ستونزو د لمنځه وړلو لامل کيږي او همدارنګه د انسان ځخه ټول ستونزي او

مشکلات لري کوي او د هغه وړه سپکوي پدي هکله پیغمبر (ص) فرمايي:آيا تاسو ته پداسې يو څه خبر درنکړم چې په يو چا باندي سختي او مشکلات راشي نو هغه دعاء ووايي نو ستونزي به له هغه څخه لري کيږي؟ ورته وويل شو ولي نه، نو وی فرمايل چې د یونس علیه السلام دغه دعاء ولولي چې الله (ج)دِ هغه په ژبه باندي داسې فرمايي:**( لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنْ الظَّالِمِينَ) "بېله تا څخه بل هیڅ خدای نشته، ستا ذات پاك دی، بېشکه ما کمی کړی وُ."**له هغه وروسته بيا الله جل جلاله ورته وفرمایل:« فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ» ژباړه:« هله نو موږ د هغه دُعا قبوله کړه او له غم څخه مو وژغوره. او پدغه شان موږ مؤمنان ژغورو.»نو دا د ټولو مومنانو لپآره عام دی.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د ایمان د لویو ګټو څخه يو هم دا دی چې ټولنیز امنیت رامنځته کوي ځکه حقیقي مومن چې ایمان يې زړه ته ښکته شوي وي هغه د امن اطمینان او د آرامۍ لامل ګرځي نو له همدې کبله د خلکو ځانونه روحونه او مالونه په امن کې کيږي پدي هکله نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي کامل

مسلمان هغه څوک دي چې خلک د هغه د ژبې او لاس څخه په امن کې وي او حقيقي مومن هغه څوک دي چې د خلکو مالونه او ځانونه د هغه څخه په امن کې وي نو د مومنانو د اخلاقو څخه دا ندي چې خلکو کي ويره واچوي يا پري تيرى وکړي اګر که غير مسلمانان هم وي ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي څوک چې معاهد ووژني د جنت بوى به هم ونه ګوري او حال دا چې د جنت بوى به د څلويښت کلونو مزل په اندازه د ليري څخه موندل کيږي همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم د هغه چا څخه د ايمان د نه بشپړوالي خبر ورکړى چې خپل ګاونډي ته زيان رسوي او يا دا چې پخپله موړ وي خو ګاونډي يي وږى وي او دا پري پوهيږي پدي هکله هغه صلى الله عليه وسلم فرمايي قسم په الله مومن ندى قسم په الله مومن ندى قسم په الله مومن ندى ورته وويل شول څوک اى د الله رسوله نو يي وفرمايل هغه چې ګاونډي تري په امن کې نه وي همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي په ما باندې هغه څوک ايمان نلري چې پخپله موړ وي او ګاونډي يي ترڅنګ وږى وي او هغه پري پوهيږي نو حقيقي ايمان هغه دى چې خاوند يې خير ښيګڼي او د نورو سره مرسته وکړي اخلاق يي سم شي او په سلوک باندي يي اغيزي څرګندي شي ټول حرکات يې سم شي او د ټولو خلکو سره يي چال چلند سم شي په انسانانو حيواناتو جماداتو باندې د الله د رضا پخاطر رحمت وکړي پدې هکله الله تعالى فرمايي« وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا * إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا»ژباړه:« او د الله په مينه کښي مسکين، يتيم او بندي ته خواړه ورکوي* (او هغو ته وايي چې) موږ تاسي ته يوازي د الله په خاطر خواړه درکوو. موږ ستاسي څخه نه څه بدله غواړو، نه مننه؛».

الله تعالى دي ددي شعر خاوند ته اجر ورکړي چې وايي: کله چې ايمان ضايع شي نو امان نشته* او د هغه چا لپاره دنيا نشته چې دين ژوندى

نکړي* او څوک چې په ژوند باندې له دين پرته راضي شي* نو فنا والې يې د خپل ځان ملګرى وګرځولو.
د ايمان د لويو ګټو څخه بل هم دا دى چې الله تعالى د خپلو مومنو بندګانو لپاره په آخرت کې د لويې بدلي وعده کړې ده چې جنت ته به داخليږي لکه چې الله تعالى فرمايى:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ» ژباړه:« او دا هم حقيقت دى، کومو کسانو چې ايمان راوړيدى او غوره چاري يې سرته رسولي دي، د هغو رب به يې د هغو د ايمان له امله پر سمه لاره وخوځوي، له نعمت څخه په ډکو جنتونو کښي به چې لاندې به يې ويالې بهيږي (ځاي ورکړي)» او بيا فرمايى:« وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ» ژباړه:« او[اې پيغمبره (ص)] کومو خلکو چې پر دې کتاب ايمان راوړ او (له هغه سره سم) خپل عملونه يې اصلاح کړل؛ هغو ته زېرى ورکړه چې د هغو لپاره داسي باغونه دي، چې ترې لاندې به ويالې بهيږي» او بيا فرمايى:« وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ» ژباړه:« او کوم خلك چې ايمان راوړي او نېك عملونه وکړي، هغوى جنتيان دي او په جنت کښي به تل اوسيږي» او بيا فرمايى:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا» ژباړه:« پاتي شول هغه کسان چې ويې مني (ايمان راوړي) او ښه عملونه وکړي، نو دا يقيني ده چې موږ د نېکوکارانو اجر نه ضايع کوو.» او بيا فرمايى:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا * خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا» ژباړه:« البته کومو کسانو چې ايمان راوړى او ښه عملونه يې وکړل، د هغو مېلمستون به د فردوس باغونه وي،* چې هغوى به پکښې د تل لپاره اوسيږي او هيڅکله به د هغو زړه له هغه ځايه وتل او چيري تلل، ونه غواړي».

او په حدیث قدسي الله تعالی هم په همدی باندې ټینګار کړی دی او د نیکو او ایمان لرونکو بندګانو لپاره یې د لوی اجر وعده کړې ده الله تعالی فرمایي « فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ»ژباړه:« نو د سترګو یخېدو کوم وسائل چي د هغو د عملونو په مکافات کښي د هغو لپاره پټ کړای شوي دي، هیڅ ساکښ پرې خبر نه دی».

نو مونږ ته مناسبه ده چې خپل ایمان عقیدي وینا کړه وړه کې ثابت کړو ترڅو پخپلو منځو کې رحم همکاري ریښتینوالي حیا سخاوت رامنځته شي او د درواغو دوکي خیانت غیبت بهتان فحش ظلم څخه ځان وژغورو د آبرو حیا او د نفس او د مال ساتنه وکړو او د هیوادونو فضیلت او مرتبه لوړه وساتو.

الله تعالی دي مونږ ته ایمان را په برخه کړي چې زړونه مو پرې ښائسته شي او کفر فسق او سرکشي له مونږ څخه لیرې کړي او الله تعالی دي مونږ د نیکانو څخه وګرځوي او د نړۍ د ټولو هیوادونو او زمونږ د هیواد ساتنه وکړي.